education above all
التعليم فوق الجميع

## تمثيل يې کړئ ( دويمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضيحات | کله چې زده کوونکي د ډرامې بنسټيز مفاهيم لکه يو ګروپ زده کوي، د يوې اونۍ په اوږدو کې به د ډرامې کليدي تمرينونه وکړي تر څو تمثيل کوونکي شي. |
| مخکښنه پوښتنه | څنګه ډرامه کولای شي يوه نظريه بيان کړي؟ |
| ټول د اړتيا وخت | ۴. ۵ ساعته په پنځو ورځو کې |
| د اړتيا توکي | کاغذونه او پنسل |
| د زده کړې پايله | يوه کيسه ولولئ يا يوه تجربه له مناسب حقيقت او اړوند تشريحاتو سره شريکه کړئ. په ښه سرعت او غږ سره په واضح توګه خبرې وکړئ چې يو کس پرې پوه شي.<br>دا څرګنده کړئ چې څنګه يو پيغام په ډراماتيک متن کې اصلي تفصيلاتو ته رسيږي.<br>د اړتيا په صورت کې د ليکوالۍ پلانونو، بدلولو او تصحيح کول ته وده او پرمختګ ورکړئ.<br>په مؤثره توګه په ګډ بحث کې ګډون وکړئ، د نورو نظريات جوړ او خپل نظر په څرګند ډول بيان کړئ. |
| مخکينۍ زده کړه | د ښه درک او پوهې لپاره موضوع په آسانه توګه او دقت سره ولولئ. |

لومړۍ ورځ

نن به تاسو په دې پوه شئ چې ډرامه څه شی ده!

نن به تاسو د ډرامې په اړه پوه شئ!

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| | لاندې پوښتنې ځواب کړئ:<br>کله چې د يوې ډرامې په هکله فکر کوې، کومې کليمې مو ذهن ته راځي؟<br><br>" ډرامه يوه کيسه ده چې د کرکټرونو تر منځ د خبرو اترو له لارې ويل کيږي."<br><br>د کيسې لوستل او ډرامه څه توپير لري؟ |

د تاسو په فکر کوم یو بنه ده؟ ولې؟

تقلیدي لوبه

١ . د خپل ملګري یا د کورنی یوه غړي په شان تمثیل وکړئ.

٢ . نور باید فکر وکړي چي دا څوګ ده او دوی د سم ځواب لپاره یوه نمره تر لاسه کوي.

٣ . وروسته له یوه نوبت څخه د یوه ډیالوګ په اضافه کولو سره د یوه کس په شان تمثیل وکړئ (هغه خبرې چي دوی یې ډیری وخت وایي). د هغوی غږ هم تقلید کړئ.

وروسته له لوبې، فکر وکړئ:

١ . په هغو لارو چي تاسو کولای شئ خبرې اترې وکړئ


٢ . څه توپیر یې درلود کله چي تاسو بدل غږ په ډیالوګ کي وکاروه؟

د حواسو لوبه

پنځه حواسه کوم او د هغوی دندې څه دي؟


لاندې انځورونو ته په کتو، په بیلابیلو ورقو کي (لکه فلش کارتونه) لږ تر لږه یو شی چي هر یوه حس ته خوښونکی او نه خوښوونکي ده ولیکئ.

د بیلګي په توګه:











فلش کارتونه په یوه کڅوړه کي واچوئ او په نوبت سره یو کارت را پورته او د غبرګون ښودلو تمثیل وکړئ. نور زده کوونکي د یوه حس او ستاسو د غبرګون په اړه فکر کوي.

هر سم فکر کوونه یوه نمره لري.

**دویمه ورځ**

**یخ وهلی فعالیت (بی حرکته کیدل)**

دغي لوبي ته په یوه قطار کي ودریږئ (یو بل پسي). لومړی کس یوه سناریو یا یو کار یا یو حالت ټاکي. دویم کس دغي سناریو ته غبرګون ښیي او دریم کس باید د دویم کس کار ته غبرګون وښيي.


<table>
<tr>
<td></td>
<td>
Freeze Activity<br><br>
For this game stand in a row (one behind the other).  The first person will choose a scenario or an action or a situation to act. The next one will have to react to this scenario and the third one will have to react to the action of the second child.<br><br>
For example:<br><br>

<br><br>
The game continues until all the players have acted. Then, they can unfreeze and act out a new scenario.
</td>
</tr>
</table>

نن به تاسو په یوې داسې کیسې فکر وکړئ چې غواړئ یئ تمرین او نقشه ورته جوړه کړئ.


| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې + جوړ شوی وخت | لاندې پوښتنې ځواب کړئ:<br>ممثلین څنګه پوهیږي چې څه ووایي او څنګه د ستیج پر سر تمثیل کوي؟<br><br>خپل تمثیل ته یو متن د کرکټرونه تر منځ د خبرو اترو په بڼه ولیکئ.<br><br>د بیلګې په توګه: |

| | |
|---|---|
| | ويونکی: د ۲۰۰۸ په دوبي کې يو روښانه سهار ؤ. علی او د هغه خور (ساره) په دې خبرې کولې چې څنګه خپله رخصتي په کور کې تېره کړي.<br><br>ساره: مونږ به په ونه کې يو کور جوړ کړو! يا به نوې لوبه جوړه کړو! يا به د نيا او نيکه کور ته لاړ شو.<br><br>علي: (ناخوښ) زه يوازې غواړم چې يواځې پاتې شم، سارې.<br><br>ساره: (لاس پورته نيسي) علي! ته ريښتيا وايې؟<br><br>**وليکئ چې د ويونکي په اړه څه فکر کوئ چې څوک ده.**<br><br>" ډيری وخت لوبې ويونکي لري، آوريدونکو ته څوک اضافي معلومات ورکوي چې څه پيښيږي." |
| ۲۰ دقيقې + جوړ شوی وخت | **حنجره**<br><br>په دې فعاليت کې به تاسو د ساه اخيستنې لارښود تعقيب کړئ:<br>1. لږ څه لرې په خپلو پښو ودريږئ. سترګې مو پټې کړئ.<br><br>2. ساه واخلئ. کله چې ساه باسئ، وايئ: آ آ آ آ آ آ آ آ آ آ آ ( درې ځله دا کار تکرار کړئ)<br><br>3. ساه واخلئ. کله چې ساه باسئ، وايئ: اووووووووووو( درې ځله دا کار تکرار کړئ)<br><br>4. ساه واخلئ. کله چې ساه باسئ، وايئ: مممممممممممم(درې ځله دا کار تکرار کړئ)<br><br>کوښښ وکړئ دغه غږونه په لوړ او ټيټ آواز ووايئ.<br><br>له دغه وروسته څه احساس لرئ. |

نن به تاسو د احساساتو په اړه پوه شئ!


| وراندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۱۵ دقیقي | په احساساتو سره خبري کول |
| | ورته جملي په احساساتو سره ووایئ. لاسونه مو مه کاروئ.<br><br>دوه دري سناریوو باندې فکر وکړئ.<br><br>د بیلګې په توګه:<br>- ښوونکی له زده کوونکي څخه د کورنی دندي په هکله پوښتي چي ولي سرته نده رسیدلې.<br>- ډاکټر یو ناروغ معاینه کوي.<br>- د تلویزیون د یوه پروګرام چلونکی له یوه مشهور ممثل سره مرکه کوي. |
| ۵ دقیقي | د سناریو له ټاکلو څخه وروسته، د کورنی له یوه غړي یا له یوه ملګري سره دغه بیلابیل احساسات تمثیل کړئ: ستړی، ویریدلی، تکړه، نا خوښ.<br><br>فکر وکړئ چي څنګه ستاسو اشاري ژبه په بیلابیلو احساساتو کي بدلیږي؟<br><br>له دغه کار څخه وروسته هغه ټکي وپیژنئ چیرته چي تاسو غواړئ له یو ځانګړي احساس سره خبري وکړئ. |
| ۵ دقیقي | دري بعدي شکلونه<br><br>د دغه کار لپاره باید تاسو جوړه، جوړه شئ:<br><br>څنګه يې تطبيق کړو:<br><br>1. یو لوبغاړی دري بعدي شکل نوم اخلي.<br><br>2. د دغه شکل جوړولو لپاره له اوږو/ ختې او کوچنیو لرګیو څخه کار واخلئ.<br><br>3. هر لوبغاړی چي لومړی لوبه پای ته ورسوي، د یوې نمري ګټونکی دی.<br><br>د بیلګې په توګه:<br>یو لوبغاړی مثلثي هرم یادوي. |

| | |
|---|---|
| نور لوبغاړي هغه جوړوي: | |



- لوبغاړي وايي: دغه شکل ۴ سرونه لري.
- لومړی لوبغاړی دغه شکل سرته رسوي او نمره ګټي.

تاسو کولای شئ دغه انځورونه د لاربنود په بڼه وکاروئ:





"There are some objects that are important to give sense to a play, for

<table>
<tr><td>ځيني شيان شته چي لوبول يې مفهوم لري، د بيلګي په توګه که چيرته صحنه د يو چا وهل په تلفون سره وي، نو اړينه ده چي تلفون شتون ولري. دغو شيانو ته "خوځيدونکي شيان" ويل کيږي.<br><br>د دري بعدي شکلونو په مرسته تاسو کولای شئ چي داسي شيان جوړ کړئ.</td><td></td></tr>
</table>

## ځلورمه ورځ

نن به تاسو خپله لوبه سرته ورسوئ او بلنليکونه به جوړ کړئ.

<table>
<tr><th>توضيحات او فعاليتونه</th><th>وړانديز شوی وخت</th></tr>
<tr><td>د کلمو فشار<br><br>"ورته جملي به بيلابيلي معناوي د کلمو د فشار پر بنسټ ولري."<br><br>په لاندي جملو کي په آسماني رنګه کلمو فشار را ولئ.<br><br><table><tr><td>ټارا کميس واخست<br>ټارا کميس واخست<br>ټارا کميس واخست<br>ټارا کميس واخست</td><td>چا کميس واخيست؟ ټارا.<br>دلته دا اړينه ده.<br>وګورئ چي د نورو جملو معنی څنګه بدليږي</td></tr></table><br><br>خپلي جملي جوړي کړئ او بيلابيلو برخو يي فشار را ولئ. په کلمو باندي فشار څنګه د جملو معنی بدلوی شي؟</td><td></td></tr>
</table>


| | |
|---|---|
| | د غږ تمرين<br>دغه تمرين لپاره تاسو بايد په ګروپونو کې څلور يا ډير کسان وئ.<br><br>څنګه يې تمرين کړو:<br><br><br>په يو قطار کې ودريږئ داسي خبرې وکړئ چې لومړی کس وکولای شي واوري.<br>• بيا دويم کس خبري وکړي او بيا دريم کس.<br>• فکر وکړئ چې تاسو يو راز شريکوئ. دريم کس بايد وکولای شي چې ستاسو خبرې واوري.<br>• يو غصناک څه ووايئ. لومړی کس بايد داسي احساس ونکړي چې تاسو چيغې وهئ. |
| | د تمرين وخت<br>هغه متن چې تاسو په دويمه ورځ ليکلی وه په ياد ولرئ، تاسو به :<br>۱ . پريکړه وکړئ چې ستاسو په متن کې به څوک د کرکټرونو تمثيل وکړي.<br>۲ . خبرې اترې يا ډيالوګ په مناسب غږ، احساساتو او تمثيلونو سره تمرين کړئ. |

## پنځمه ورځ

بلنلیک

یو بلنلیک ډیزاین او جوړ کړئ چې د خپلې کورنۍ غړي او ملګري د لوبې کتو ته راوغواړئ.

کارت باید لاندې مشخصات ولري




ډیر مشخصات او د ښایست توکي په بلنلیک کې ځای پر ځای کړئ چې ستاسو د لوبې داستان په پام کې ونیول شي.

د میلمنو یو لیست جوړ او کارتونه وویشئ.

نن به تاسو جزیات چمتو او خپلې لوبې به تر سره کړئ.

| توضیحات او فعالیتونه | وړاندیز شوی وخت |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| نن به تاسو خپله لوبه وړاندې کړئ.<br><br>د دې کار د امکان لپاره، تاسو باید لاندې برخې ځانګړې کړئ:<br><br>- ځانګړې جامې<br>- په احساساتو سره خبرې اترې<br>- موسیقي<br>- نظم او د لوبې شیان | |
| د لوبې وړاندې کول<br><br>خپلې لوبې د لیدونکو او خپلو ځانګړو میلمنو مخکې وړاندې کړئ.<br><br>وروسته له لوبې څخه لاندې پوښتنو ته ځواب ووایئ:<br><br>● آیا لیدونکو له لوبې خوند واخیست؟<br>● هغه دوه شیان کوم دي چې ښه مخ ته لاړل؟<br><br>● د کوم څه د ښه کیدو امکان ؤ.<br><br>خپل ځوابونه د لومړئ ورخ پوښتنو ته ووایاست او په دې بحث وکړئ چې څنګه ستاسې نظریات بدل شوي دي.<br><br>لاندې پوښتنې ځواب کړئ:<br><br>څنګه ډرامه کولای شي یوه نظریه بیان کړي؟ | |
| کیسه ویل<br><br>لاندې کیسه ولولئ او بحث پرې وکړئ.<br><br>**د ستیج ویره**<br><br>لیکوال: یامیني ویجایان<br><br>په دې لویه نړۍ کې د چمپا سندرې ویل له ټولو کارونه څخه ډیر خوښیدل. کله به چې هغې سندرې ویلې، هغه به په خپله نړۍ کې له خوښیو ډکیده. هغې په حمام او د بام په سر سندرې ویلې. هغې به غونډیو ته او سپوږمۍ ته سندرې ویلې. هغې به د زمري او د شاتو د مچیو په شان سندرې ویلې. هغې به په باران او توده هوا کې سندرې ویلې. یوه ورځ چې چمپا سندرې ویلې، باسینټ خوښ شه. هغه وویل، " زه یوه حیرانونکې نظریه لرم." باسینټ د چمپا ښه ملګرې ؤ. هغه به تل ډیر نظرونه لرل. ځینې نظرونه یې ګواښونکې ول. او ځینې نظرونه یې ویرونکې ول. باسینټ وویل، " ته باید د کال په ورځ سندرې ووایې!" چمپا وویل، " څومره بد نظر!" باسینټ وویل، " ولې یې نه وایې! ته خو سندرې ویل خوښوې." له دې مخکې چمپا هیڅکله باسینټ ته نه وه ویلې چې هغه کله یو ځل | |

| | |
|---|---|
| ستيج ته وخته او نږدې وه چې له ويرې بې هوښه شوې وه. هغې وويل، " زه ... زه نشم کولای د ډيرو خلکو مخکې سندرې ووايم." | |

| | |
|---|---|
| چمپا دا خبره وکړه، "زه حتی نشم کولای د مور او پلار مخکې سندرې ووایم!" باسینټ وویل، " چمپا، ته زما شاوخوا سندرې ووایه! کوم څه ته چې اړتیا لرې هغه لږ تمرین ده." که ماهي او پاراس ما پورې وخاندي؟" باسینټ وویل، "که هغوی دا کار وکړي، هغوی به ساده ګان او کنجوسان وي. ته یوه حیرانونکې سندرغاړې یې." ۵۷ کلنې یامیني ویجایان د ستیج ویره لیکلې، ډیری په دې آند دي چې د هغې سندرې ویل د ستیج پر سر د ډیرو خلکو مخکې هغه عصبي کړې وه.<br><br>چمپا خوښه وه او په ورته وخت کې ویریده، خو د هغې سندرې ویل ډیر خوښیدل! هغې د سندرې ویلو پریکړه وکړه. چمپا په دقت سره څو ورځې تمرین وکړ. هغې پر خپل غږ تمرین وکړ تر څو تر ټولو ښه غږ شي. د چمپا د لویې ورځې لپاره هر یو خوښ وو. هغې خپله مشوره ورکړه: د سندرې ویلو څخه مخکې، چمپا حتی یو ځانګړی تمرین وکړ. دا یو ښه بریالیتوب ؤ. په پای کې، هغه لویه ورځ راغله.<br><br>کله چې د هغې د سندرې ویلو نوبت راغی، د هغې ژبه درنده شوه. ستیج ډیر لوی ده! روښنایي ډیره ده! په تالار کې ډیر خلک دي! د چمپا ستونی بند شه، او لاسونه یې خولې شول. د ستیج په ۵۸ ویریدلې ځل کې هغې ته ور په زړه شول چې ناستو خلکو ته موسکا وکړي.<br><br>کله چې هغې په سندرې پیل وکړ، یو غږ یې واوریده. داسې لکه څوک چې د هغې غږ زمزمه کوي. چمپا یوه ژوره ساه او اوږده ساه واخیسته او بیا یې کوښښ وکړ... یوه چیغه را پورته شوه! آوریدونکو یوه لنډه ساه واخیسته. د چمپا زړه په لوړ غږ ګړبیده . ګړب! ګړب! ګړب! سر یې په ګرځیدو پیل وکړ. په همدې وخت کې هغې باسینټ ولید چې لاس یې ورته خوځاوه.<br><br>هغه ډیره خوښه شوه چې باسینټ یې ولید. نو هغې بیا کوښښ وکړ. لومړی، سندره آرامه وه. که څه هم د هغې غږ ګډ وډ وه، خو آواز یې یو څه ښه ؤ. بیا ورو، ورو د هغې موسیقي پیل شوه او ساز یې غښتلی او خوندور ؤ. د ستیج لوی والی او د روښنایي ډیر والی څه خبره نه وه. یا حتی د آوریدونکو ډیرښت هم کومه خبره نه وه. چمپا خپل غږ خپور کړ. او کله چې هغې دا کار وکړ، هغه د نړۍ له خوښیو ډکه شوه.<br><br>1. آیا تاسو یا هغه کسانو چې تاسو یې پیژنئ د ستیج ویره تجربه کړې ده؟<br>2. د دغې اصطلاح " له یو څه ویریدل" څه معنی لري؟<br>3. فکر وکړئ چې تاسو باسینټ یاست. چمپا ته یوه ورځ مخکې د کال د ورځې په پار یو لیک ولیکئ او هغه د ښه کار کولو لپاره و هڅوئ. | |

**د ارزوني معیارونه**

- زده کوونکي په فعاله توګه ګډون او یو بل ته د ډرامې د سرته رسولو په وخت کې غوږ ونیسي.
- زده کوونکي د خپلو ډرامو سرته رسولو د ځواک او ودې فرصتونه و پیژني.
- زده کوونکي دې خپلو کورنیو ته بلنلیکونه جوړ کړي چې د لوبې ټول اړوند معلومات پکې وي.
- زده کوونکي به د ډرامې کرکټرونه وپیژني او په متن کې چې هغوی یې لیکي ور تطبیق کړي.
- زده کوونکي به دغې پوښتنې ته ځواب ووايي "ښنګه ډرامه یوه نظریه بیانولی شي؟ هغوی به ځوابونه په ۱ ــ ۲ مثالونو کې چې د پروژې له فعالیتونو څخه تر لاسه شوي وي واضح کړي.